مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۱/۲۶

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### لومړی برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښيني کندهاري په باب څو پرله پسي ليکني خپرې کړې. ځينو دوستانو راڅخه وغوښتل چي که دا موضوع يو څه پسي پراخه سي، ښايي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نېستي کي مي دا څېړنه د يوه کتاب په بڼه ترتيب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري ليکني او په دې باب د نورو خپرو سوو ليکنو ترمنځ مکررات ويني، د مهربانی له مخي دي د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دي وبخښي.**

م. هوتک

د نونسمي عيسوي پېړی په لومړی نيمايي کي پر ټول هندوستان باندي د انګرېزي استعمار بشپړ تسلط ټينګ سو. دې تسلط د پر سيمه باندي د استعماري ګټو د تامين پر څنګ ،د علامه حبيبي په قول سيمي ته د نوي مدنيت او صنعت" مبادي" هم ور سره راوړل او د هغو اغېزي زموږ د هيواد تر ختيځ پوري هم راورسېدې. د نوي مدنيت لومړنيو آثارو راتګ د خلکو پر ژونداو فکر، د حکومتو پر سياست او کړنلارو باندي خپله اغېزه واچوله او يو راز فکري خوځښت ته ئې لار اواره کړه.
د دغه فکري حرکت يو پياوړی علمبردار سيد جمال الدين افغان وو چي د استعمار، استبداد او خرافاتو پر ضد ئې د راويښولو خوځښت له افغانستانه پيل کړ او تر هند، ايران، ترکيې او مصر پوري ئې ورساوه.په افغانستان کي ددغه استعماري ضد اصلاحي حرکت د نسبي عملي کولو کار ته امير شيرعليخان د خپلي پاچهی په دوهمه دوره (۱۸۶۸ ـ ۱۸۷۹م) کي ملا وتړله. د امير په دغو استعماري ضد فعاليتو او ريفورمونو کي دده د صدراعظم سيد نور محمد شاه پښيني کندهاري مثبت رول خپلو او پرديو مورخينو په اتفاق او يوه خوله سره تائيد کړی دئ. د سيد نور محمد شاه کندهاري پر وطندوستی، سياسي دوربينی او استعماري ضد روحيې باندي ددغه عصر ټول واقعبين څېړونکي د نظر يووالی لري.
زه پخپله دغه څېړنه کي د امير شير عليخان پر ريفورمونو لنډ مرور کوم او وروسته په هغو کي د سيد نورمحمد شاه پر نقش، د هغه پر سياسي ماموريتو، د هغه پر کورنی او مسقط الرأس باندي نسبتاً تفصيلي خبري لرم.
ددي څېړني په ليکلو کي ما پر کتبي مدارکو سربېره له موثقو محلي روايتو او خانداني اسنادو او شجرو څخه کار اخيستی دئ.
هيله ده زما دغه هڅه د افغانستان د تاريخ ددغه روښانه دوران او په تېره بيا د کندهار د يوې درني روحاني او سياسي کورنی په پېژندلو کي ګټوره تمامه سي.

محمد معصوم هوتک
آشاوا ـ کاناډا
۱۶مه د اکتوبر ۲۰۲۰ع



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

# لومړی څپرکی

## امیر شیرعلیخان او ریفورمونه

امیر شیرعلیخان د امیر دوست محمد خان (۱۲۰۹ ـ ۱۲۷۹هـ ق) شپږم زوی او د سردار پاینده خان ( ۱۲۱۴هـ ق وفات) لمسی وو. مور ئي د حاجي رحمت الله خان پوپلزي لور وه او" خدیجه بیگم" نومېدله. نوموړی په ۱۲۳۷هـ ق کال د محرم الحرام میاشتي پر لسمه زیږېدلی دئ. مولوي احمد جان الکوزي ( تاجر) ئي د زیږېدلو په اړه دا لاندي نظم ویلی وو:(۱)

آمـــد از عـــرصهٔ عـدم بـوجـود
شاه عــــــالی جناب منبع جـــود

خلــق بـهـتـــرین زمـــــــان
مظهر لطف کـــــــردگار ودود

یافت عالـــــم زِ هستی پاکش
رونق و روشنی و عِـز و نمود

روز عـــاشوره سال بس میمون
بـه وجود آمـد این چنین مسعود

شـــه انجـــم سپه امیر کـبیر
از چنین مـژده شد بسی خشنود

یدِ احسان فشاند بر عـــــالم (۲)
درِ بخشش بـروی خلـــق کشود

رخش عشرت به زیر ران آورد
تاج رفعت به چــرخ هفتم سود

عـالم از ظـلم بود چون شب تار
صبح رویش ضـیاء بـخلق نمود

لــور کندی بدین جــهان خراب
ساخت پاک و صـاف و صلـود

یکشب انــدر خـــیال تــاریخش
قاصر آمـــــد طبیعتِ جلمود

از کـرم سر کشید هـــاتف گفت
"صـاحب بخت باد این مولود"(۳)

د امیر شیرعلیخان مېرمن د کندهاري سردار پردل خان د زوی سردار میر افضل خان لور " بي بي عایشه" وه. د سردار میر افضل بله لور د پېنین د ساداتو په کورنی کي د سید محمد سعید اغا مېرمن وه. (۴)

د امیر شیر علیخان پلار امیر دوست محمد خان چي د ۱۸۴۰ع کال د نومبر پر څلرمه مکناټن انگرېز ته په کابل کي ځان په ناڅاپي توگه تسلیم کړ، هغه سمدستي امیرله خپلي تولي ورسره ډلي سره کلکتي ته واستاوه. په دغه ډله کي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

پنځلس کلن سردار شیرعلیخان ( وروسته امیر شیر علیخان) هم شامل وو.ځوان شیر علیخان په دغه تبعید کي له انګرېز څخه د نفرت روحیه واخیستله او دا نفرت ئي د ژوند تر پایه په زړه کي وساته.

دوه کاله وروسته، هغه وخت چي انګلیسي قواوو په افغانستان کي شرموونکې ماته وخوړه، امیر دوست محمد خان ته له هندوستانه د وتلو اجازه ورکول سوه. دی له خپلي کورنۍ سره کابل ته راغی او د پاچهۍ پر تخت کښېنوست. د تخت تر نیولو وروسته ئي خپل زامن پر لوړو مقامو باندي مقرر کړل او په هغه کي ئي سردار شیرعلیخان ته هم د کورمي (۵) حکومت وسپاره. سردار شیرعلیخان د پلار په ژوند دا لاندي وظایف په ښه توګه سرته ورسول:

د کورمي حاکم له ۱۸۴۲ع څخه تر ۱۸۴۵ع پوري،

د غزني حاکم له ۱۸۴۵ع څخه تر ۱۸۵۸ع پوري،

د کندهار حاکم له ۱۸۵۸ع څخه تر ۱۸۶۳ع پوري ،

د هرات حاکم ۱۸۶۳ع.

امیر دوست محمد خان د خپل سلطنت په سر کي وار د واره خپل مشر زوی سردار غلام حیدر خان د ولیعهد په توګه ټاکلی وو او کله چي نوموړی سردار د ۱۲۷۶هـ ق کال د ذیقعدی میاشتي پر شلمه په کابل کي دسرسام په ناروغي مړ سو، امیر دوست محمد خان د ولیعهدی مقام سردار شیر علیخان ته ورکړ. سردار شیر علیخان او سردار غلام حیدر خان سکني ورونه ول. (۶)

امیر دوست محمد خان له خپلو ورونو سره تر یو لړ جنګو او پر هغو باندي له بریالیتوب وروسته د افغانستان د تمامیت په نیت د هرات د نیولو فیصله وکړه. هرات په دغه وخت کي د سردار محمد اعظم خان د زوی سردار سلطان احمد خان سرکار په لاس کي وو. کله چي امیر دوست محمد خان کندهار د سردار رحمدل خان او د هغه د ورېرونو له لاسه وایست او پخپل تصرف کي ئي راووست ،سردار سلطان احمد خان ایران ته ولاړ او د ۱۲۷۳هـ ق کال په روژه کي د ایران د پاچا ناصرالدین شاه په مرسته د هرات پر حکومت کښېنوست. خطبه او سکه ئي د ناصرالدین شاه په نامه جاري کړه. له ده سره د رحمدل خان زوی سردار محمد علم خان، د کندلخان زوی سردار سلطانعلي خان هم یوځای سول.

د امیر دوست محمد خان دغه تصمیم هغه وخت جدي بڼه غوره کړه چي سردارسلطان احمد خان د سردار پردلخان د زوی میرافضل خان په تحریک او تشویق پر فراه لښکرکشي وکړه او وې نیوله. امیر دوست محمد خان په دغه وخت کي په جلال آباد کي وو او پر کندهار باندي دده د زوی سردار محمد امین خان حکمراني چلېدله. امیر د فراه د تصفیه کولو په نیت د ۱۲۷۸هـ ق کال په روژه کي له جلال آباد څخه مخ پر کندهار رارهي سو. کندهار ته تر رسېدلو وروسته ئي سردار محمد امین خان له ځانه سره د فراه او هرات پر لور ملګری کړ او په کندهار کي ئي د سردار محمد امین خان زوی سردار محمد اسماعیل خان د حکمران په توګه وټاکه او سید نورمحمد شاه ئي دده د نائب په حیث ورته مقرر کړ. امیر فراه له سردار سلطان احمد څخه ونیوله او مخ پر هرات وروړاندي سو. هرات ئي کلابند کړ او له اوږدي کلابندی وروسته چي د هغې په ترڅ کي سردار سلطان احمد او د هغه مېرمن چي د امیر لور وه (۷)، وفات سول او هرات د امیر لښکرو ونیو او پر ټول افغانستان باندي د امیر دوست محمد خان واکمني ټینګه سوه.له امیر سره په دغه لښکرکشي کي سردار شیرعلیخان هم ملګری وو او د هرات په کلابندی کي ئي د جګړي پر ډګرونو ښه مهارتونه له ځانه ښوولي ول.

امیر دوست محمد خان د هرات تر نیولو وروسته سردار محمد امین خان خپلي حکمرانی ته بیرته کندهار واستاوه. دده تر روانېدو وروسته امیر ناروغه سو او د ۱۲۷۹هـ ق کال د ذیحجي پر ۲۱مه = ۹ جون ۱۸۶۳ع وفات او د خواجه عبدالله انصاري په زیارت کي خاورو ته وسپارل سو. د امیر عمر په دغه وخت ۷۲ کاله وو او ۲۷ زامن او ۲۵ لوڼي ئي پاته سوې.

د امیردوست محمد خان تر وفات وروسته ئي زوی سردار شیرعلیخان د امیر شیرعلیخان په نامه په هرات د افغانستان د پاچا په توګه پر تخت کښېنوست (۸). څه موده ئي په هرات کي تېره کړه او وروسته ئي خپل څورلس کلن زوی سردار محمد یعقوبخان د هرات حکمران وټاکه او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ



امیر شیرعلیخان

دی له خپلو ورونو سره مخ پر کابل رهي سو. په کندهار کي ئې ورور سردار محمدامين خان که څه هم په زړه کي راضي نه وو، خو تودهرکلی ئې وکړ او درنې مېلمستياوي ئې ورته وکړې.
امیر شیرعلیخان په ۱۲۸۰هـ ق = ۱۸۶۳م کال کابل ته ورسېد او پاچهی لومړی دوره ( ۱۸۶۳ـ ۱۸۶۶م)ئې پیل کړه. دده دغه اول وار پاچهي له ورونو سره په جنګو او جګړو کي تېره سوه او درې کاله ئې دوام وکړ. په ۱۲۸۲هـ ق کال د ذی الحجې پر ۲۸مه ئې د سید اباد په جنګ کي ماته وخوړه او د کابل تخت ئې ورونو امیر محمد افضل خان او امیر محمد اعظم خان ته يو په بل پسې ورسېد.
دوه کاله وروسته امیر شیرعلیخان د شش ګاوپه جنګ کي امیر محمد اعظم خان او د هغه وراره سردار عبدالرحمن خان ته ماته ورکړه(اوومه سپتمبر ۱۸۶۸م)او دوهم وار د کابل پر تخت کښېنوست. دا وار ئې په هيواد کي د ځينو بنيادي اصلاحاتو له پاره فرصت وموند.په نظامي، فرهنګي او اداري برخو کي دغو اصلاحاتو په افغانستان کي د يوه متمدن دولت د تاسيس له پاره بنيادونه کښېښوول. ددغو اصلاحاتو په منځ ته راوړلو کي خو د امیر خپله اراده او متمدن افکار هرومرو غټه ونډه لري خو په دې برخه کي د سيد جمال الدين افغان سپارښتني هم اغېزمني ګڼل کېدلای سي. سيد جمال الدين افغان د کونړ په ساداتو کي يو فوق العاده هوښيار او نابغه شخصيت وو چي د امیر دوست محمد خان په دربار کي ئې هم نفوذ درلود. امیر دی د خپل زوی سردار محمد اعظم خان ( وروسته امیر محمد اعظم خان) استاد مقرر کړ. د امیر شیر علیخان په دوهم وار پاچهي کي چي دده ورور امیر محمد اعظم خان تر ماتي وروسته ايران وتښتېد، د شیرعلیخان درباريانو د سيد جمال الدين افغان په باب د امیر نظر واړاوه او هغه ئې د امیر محمد اعظم خان پلوی ورته معرفي کړ. پر امیر شیرعلیخان باندي د درباريانو دې خبرو اغېزه وکړه او سيد جمال الدين ته ئې له هيواده د وتلو توصيه وکړه.

وايي کله چي سيد جمال الدين له کابله ووت، امیر ته ئې د اصلاحاتو يو ليکلی اوږد طومار وسپاره او په هغه کي ئې د هغو اصلاحاتو يادونه هم کړې وه چي د امیر ذهن ورته لا پخوا په هندوستان د تبعيد له شپو ورځو څخه آماده سوی وو (۹). په دې اصلاحاتو کي د عصري کابينې جوړول، د مواصلاتو، معارف، مطبوعاتو، سياست او اقتصاد د سمبالولو يادوني راغلي وې. دغه راز ورته ليکل سوي ول چي " انګرېز د ټول مشرق دښمن دئ، خو په دښمني کي په دې کاميابه دئ چي په شرق کي ټول نظامونه د استبداد پر بنسټ ولاړ دي او خلک له ناپوهی څخه د خرافاتو په کنده کي پراته دي او دغو ملتونو ته د نجات ورکولو وظيفه د پاچهانو پر عهده ده."(۱۰)

امیر شیرعلیخان په افغانستان کي د منظم اردو تاداو کښېښوو. ده پخپل منظم اردو کي ۵۶۱۷۳ تنه منظم عسکر درلودل چي په ۷۲ پلټنو او ۱۵ رسالو کي منظم سوي ول. دې اردو ۳۷۹ توپونه او پنځوس زره توپک درلودل.(۱۱)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

## د لومړي برخي لمنليکونه:

۱ــ دا نظم مولوي نور محمد " نوري" پخپل کتاب " ګلشن امارت" کي راوړی دئ او ما ( م . هوتک) ددغه کتاب له لومړي چاپ (۱۳۳۵ش ــ انجمن تاریخ ــ کابل) ۳ مخ څخه را واخیست.
مولوي احمد جان دآزادخان الکوزي زوی  او په (تاجر) سره مشهور وو، دامیر عبدالرحمن خان د پاچهی پروخت په کابل کي اوسېدئ اودخپل عصر له وتلو عالمانو په ډله داحترام وړشخصیت وو. امیر ورته په درنه سترګه کتله مولوي احمدجان داساس القضاة په نامه دروندائر د همدغه امیرپه غوښتنه کښلی دئ . اساس القضاة په ۱۳۰۳هـ ق کال دصفرالمظفرپر یوولسمه دکابل دارالسلطنة په مطبعه کي چاپ سوی دئ. مولوي احمدجان تاجر په فارسي ژبه شعر هم وایه او مردف دېوان ئي درلود چي اوس لږ موندل کېږي.
د مولوي احمدجان تاجر دري زامن (مولوی محمدسرورخان واصف، سعدالله  خان او عبدالرحمن خان) او یو وراره عبدالقیوم خان په افغانستان کي دلومړي مشروطیت دمخکښانوڅخه ول.

۲ــ دغه بیت د ګلشن امارت په دوهم چاپ کي نسته. باید وویل سي چي په دوهم چاپ کي دغه نظم نوري ګډوډی هم لري.

۳ــ په دې نظم کي د مصرع د سر له تورو څخه د امیر شیر علیخان نوم راوزي او د توشیح صنعت پکښي دئ. وروستی مصرع د زېږېدو تاریخ دئ چي ابجدي قیمت ئي ۱۲۵۷ کېږي. له دې عدد څخه د " کرم" سر یعني (ک = ۲۰) د " کشید" په قرینه تفریق سي، د زېږېدو کال ۱۲۳۷هـ ق لاس ته راځي.
په سراج التواریخ ـ دوهم توک ــ ۸۰ مخ ( چاپ ۱۳۷۲ش) کي د امیر شیرعلیخان د زېږېدو کال ۱۲۳۸ لیکل سوی دئ چي چاپي تېروتنه به وي. ( م.هـ)

۴ــ سید محمد سعید اغا د امیر شیر علیخان باجه وو او د همدې خپلوی له اسیته ددغه امیر په دربار کي مهم سړی ګڼل کېدی. سید محمد سعید اغا پر افغانستان باندي د انګرېزانو د دوهم یرغل پر وخت د غزني والي وو. د هندي آرشیف د اسنادو له مخي،ده د انګرېزانو پر ضد د افغانانو د ملي قیام پر مهال منفي رول ادا کړی دئ.(د دوکتور عبدالخالق رشید له ناچاپ اثر" ملادین محمد(مشک عالم)" په حواله)

۵ــ کورمه (kūrma) په پښتونخوا کي یوه سیمه ده چي شمال ته ئي سپین غر، جنوب ته ئي خوست،ختیځ ته ئي اورکزي او بنګښ، لویدیځ ته ئي د منګلو غرونه دي. مرکز ئي پاړه چنار ( توتکی) ده. پاړه چنار له کوهاټه ۱۱۷ میله او له پیواړه ۱۶ میله لیري پروت دئ. ( جغرافیایي یادښتونه ۴۰۹مخ)

۶ــ ارواښاد احمد علي کهزاد په " رجال و رویداد های تاریخی" صــ ۱۲۹ــ چاپ اول کي لیکلي دي چي امیر دوست محمد خان د هرات د محاصري په وروستیو شپو ورځو کي ، کله چي ئي د سالندی ناروغي مخ پر زیاتېدو سوه، نو ئي خپل زوی سردار شیرعلیخان د نورو شهزادګانو او مشرانو په حضور کي د خپل ځای ناستي په توګه اعلان کړ او د سلطنت چاري ئي ور وسپارلي.

۷ــ دا ښځه د سردار شیرعلیخان او سردار محمد امین خان سکه خور وه.

۸ــ په ګلشن امارت ( صــ ۷۱ چاپ ۱۳۸۲ش) کي دغه ورځ د محرم الحرام لومړی پنجشنبه ۱۲۸۰هـ ق = د جون ۱۸مه ۱۸۶۳م ده خو سید قاسم رشتیا ۱۲ ذی الحجه ۱۲۷۸هـ ق = ۱۲ جون ۱۸۶۲ع کښلي ده. ( افغانستان در قرن نزده ، صــ ۲۱۷ چاپ ۱۳۸۴ش)

۹ــ ډاکټر حسن کاکړ په  (A Political and Diplomatic History of Afghanistan)۱۸ مخ کي د غازي سردار محمد ایوب خان د مشر زوی عبدالقادر افندي د لیکني له مخي کښلي دي چي د ځینو پوهانو د نظر پرخلاف دا سید جمال الدین نه وو چي امیر ته ئي د اصلاحاتو راوستلو مشوره ورکړي وه ، بلکي دا قاضي قادرو وو چي امیر ئي دغو ریفورنو ته هڅاوه.  قاضي عبدالقادر یوسفزی مشهور په قاضي قادرو دپېښور اوسېدونکی وو او امیر له پېښور څخه کابل ته له ځانه سره راوستلی وو.  خو ځیني محققین قاضي قادرو ته ښه نظر نه لري.

۱۰ــ عطایي، محمد ابراهیم ، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، ۹۹مخ، ۱۳۸۳ش، کابل

۱۱ــ وګ : پښتو چاپي آثار ــ ۴۲، ۱۸۶، ۱۸۷ مخونه. د ډاکټر حسن کاکړ او  رازقي نړیوال مقالي

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ